ورځپانه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

شپږم کال ٤٤مه گڼه پرله پسې (٤٢٤) یکشنبه د١٤٢٢ هـ ق کال دربیع الثاني (٢)
د ١٣٨٠ هـ ش کال دسرطان دمیاشتې (٣) د٢٠٠١ میلادي کال دجون (٢٤)

الهی فرمان

بې شکه الله تاسي ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چې دخلکو ترمنځ فیصله کوئ نو په عدل یې کوئ، الله خو تاسي ته دیر خبره نصحیت کوي بې شکه الله اوریدونکی او لیدونکی دی

- (٥٨- النساء)

د کونړ د مومند او سالارزو مشران د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال سره د کتنې په ترځ کې :

دکونړ میشته قومونه شر اچوونکو ته مخه نه ورکوي

ننگرهار : د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر پرون له غرمې مخکې دخپل کار په دفتر کې دکونړ ولایت دمومندو او دسالارزو د قومونو له یو شمیر مخورو شخصیتونو او جهادي

قوماندانانو سره وکتل. د ریاست الوزراء مطبوعاتي دفتر د باختر اطلاعاتي آژانس ته خبر ورکړ د کتنې په پیل کې محترم محمد ملک محترم عبدالقاهر محترم ناصرخان، محترم میرحسن محترم خان ملک

او محترم ملک اکبرخان خبرې وکړې او په مقدس جهاد کې د کونړ ولایت دخلکو د ونډې اخیستنې د یادونې په ترځ کې یې ټینگار وکړ چې په دغه ولایت کې میشت قومونه د اسلامي امارت د پروگرامونو دفاع کوي او هیڅکله

شر اچونکو عناصرو ته به خپلو سیمو کې د فعالیت اجازه نه ورکوي.

وروسته د ریاست الوزراء محترم اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو په ترځ کې د مقدس جهاد په

٤مخ

قوماندانان شیرعلم وبسم الله در یک رویا رویی خونین

درگیری برسر تقسیم سلاح ومهمات صورت گرفته است

مسعود به عوض قوماندان سیاف قوماندان خودرا توظیف نمود

منابع موثق خبری : درگیری شدید وخونینی میان افراد قوماندان شیرعلم وقوماندان بسم الله به استقامت شمالی درگرفته است به گفته یك منبع موثق خبری این درگیری برسر تقسیم سلاح ومهمات رخ داده که اخیراً مسعود از طرف کشور های حامیان خویش بدست آورده است. خبر می افزاید که مسعود پس از این درگیری

ص ٤

پاکستان سره دتازه میوو دصادراتو په هکله تفاهم وشو

اسلام آباد : پاکستان سره دهیواد دتازه میوو دصادرونکو سوداگرو دځینو ستونزو او مشکلاتو د لرې کولو په باب تفاهم وشو دباختر اطلاعاتي آژانس خبریال راکړې دپاکستان په اسلامي جمهوریت کې دافغانستان داسلامي امارت دسفارت شارژدافیر

٤مخ

دننگرهار پوهنتون دسیاسي علومو دفارغانو په وياړ

مهمه غونډه جوړه شوه

ننگرهار : دننگرهار پوهنتون دحقوقو او سیاسي علومو دپوهنځي دمحصلانو دفراغت له امله ورمه ورځ یوه غونډه جوړه شوه دباختر اطلاعاتي آژانس

٤مخ

تدویر سیمینار آموزشی اسناد تقنینی

کابل : سیمینار آموزشی در رابطه به توضیح اهمیت اسناد تقنینی مرتبط کار دیروز برای مامورین ریاست عمومی کار وامور اجتماعی دایر گردید.

آژانس اطلاعاتی باختر خبرداد : اهمیت و ارزشمندی این سیمینار را محترم مولوی عبدالغیاث قانع رئیس عمومی کار وامور اجتماعی توضیح کرده و ازشاملین سیمینار مذکور خواست تا پروگرام سیمینار

ص٤

د ٥٠٠ فامیلیو دمدرسي د اوبو د سیستم کار ٧٠% سرته رسیدلی دی

په کابل کې له ٩٠ تنو یتیمو ماشومانو سره روزنیزې او مالي مرستې کوو عبدالرؤف «عزیزي»

گرانو لوستونکو : جگړه د خپلو ماشومانو موسسه هغه موسسه ده چې له پیرزلو ماشومانو سره دکابل

په ښار کې ځینې روزنیزې او مالي مرستې کوي زموږ خبریال دغې موسسې ته سره ورغی کاریې او

لند معلومات یې را غوند کړیدي چې ستاسو پاملرنې ته را گرځوو.

٤مخ

دعدلیې وزارت معین له ویندرل سره په کتنه کې :

دهیواد ټول نافذقوانین دجید وعلماو له نظره تیر شوي دي

کابل : دعدلیې وزارت معین محترم مولوي جلال الدین شینواري پرون دخپل کار په دفتر کې دافغانستان لپاره دملگرو ملتو دسازمان له ځانگړي استازي او د دغه سازمان دهیات له رئیس ساغلي فرانسس ویندرل سره وکتل . دباختر

٤مخ

گزارش خبرنگار ما از کلینیك حمایه طفل ومادر خواجه بغرا خیرخانه مینه شهرکابل :

طی سه ماه اخیر درکلینیك حمایه طفل ومادر خواجه بغرا ۲۰۰۰ طفل تداوی شده است

کابل شریعت : کلینیك حمایه طفل ومادر خواجه بغرا خیرخانه یکی از کلینیك های مهم وفعال ریاست حمایه طفل ومادر درشهرکابل به شمار میرود دراین کلینیك روزانه تعداد بیشماری از مادران ، خواهران واطفال مریض مراجعه نموده و طور رایگان معاینه وتداوی میشوند .

ص٤

دور سوم واکسیناسیون فلج اطفال درولایت بامیان آغاز گردید

بامیان : دور سوم تطبیق کمپاین واکسیناسیون علیه مرض فلج اطفال دیروز در ولایت بامیان

ص٤

قرار داد بازسازی برق پولی تخنیك وپوهنتون کابل عقد گردید

کابل : موسسه خیریه وفا برنامه جدید تمویل مصارف یکتعدا د پروژه ها را به وزارت تحصیلات عالی ارایه داشت . آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد : برمبنای برنامه جدید قرار است مصارف بازسازی برج برق

ص٤



عکس : نمایی از تعمیرانستیتوت پولی تخنیك کابل

عکاسی یوسف

روسیه ۴۶ دپلومات امریکایی رااخراج میکند

مسکو : حکومت روسیه اعلان نموده است که ٤٦ نفر دپلومات امریکایی مقیم آن کشور را اخراج می کند . روسیه تاریخی اخراج آنها را او جولای ذکر کرده است . روسیه این عمل را دربرابر یك اقدام امریکا بحیث یك جواب متقابل میکند امریکا همین تعداد دپلوماتهای روسیه را باتهام جاسوسی برای روسیه اخراج کرده بود .

رادیو صدای شریعت ولایت بادغیس دوباره فعال گردید

بادغیس : کار ترمیم وبازسازی اتاقهای ثبت ونشرراديو صدای شریعت ولایت بادغیس که قبلاً آغاز گردیده بود تکمیل ودیروز توسط محترم مولوی ولی جان والی آنولایت افتتاح گردید آژانس اطلاعاتی باختر

ص٤

تعداد کشته شده گان نظامی هند در کشمیر رو به ازدیاد است

سرینگر : دریك زد وخورد خونین مجاهدین کشمیری ونظامیان هندی از انفه از ده تن نظامی کشته و زیاده از سی تن

ص ٤

په چین کې داوبو ځیره اعلان شوه

پیکنگ : دچین په هیواد کې دځو وروستیو کلونو دوچکالې په دوام د دغه هیواد په شمالي او

٤مخ

په فلسطین کې وسله والو نښتو بیا زورواخیست

رام الله : په ټول شوي فلسطین کې پرون او ورمه ورځ دفلسطیني مجاهدینو او داسرائیلو دصهیونیستي رژیم دیرغلگرو ترمنځ نښتو دوام درلود. دټریوالو خبري منابعو دخبرله مخې دیوتن فلسطیني سرتیري برید له امله ورمه ورځ

٤مخ



عکس : یك مسجد جامع در کشمیر

دپاکستان جمهور رئیس ټول سیاسي مشران سلا مشورې ته را وبلل

امریکا غږ راډیو : د پاکستان ورځپاڼو لیکلي دي چې دغه هیواد جمهور رئیس او پوځي واکمن جنرال پرویز مشرف د پاکستان ټولو سیاسي گوندونو ته ویلي دي چې د راتلونکې چهارشنبې په ورځ په اسلام آباد کې له هغه سره وگوري چې د جولای په څوارلسم تاریخ هند ته د هغه د سفر په

٤مخ

امریکې، ایران دظهران په پیښه کې په لاس لرلو تورن کړ

دظهران په چاودنه کې ١٩ تنه امریکائیان مړه شوي وو

واشنگتن : امریکاوایي په ١٩٩٦ میلادي کال چې دسعودي عربستان په ظهران کې دامریکایي قواو په یوه مرکز کې چاودنه وشوه او ١٩ تنه امریکایان پې مړه او په سلگونو نور یې ټپیان کړل په هغې کې دایران لاس ؤ . ددې پیښې په باب تحقیقات هغه مهال بل کلنتن دسي آی ای رئیس ته سپارلي وو خو

٤مخ

در ترکیه :

حزب فضیلت منحل اعلام شد

انقره : در کشور ترکیه محکمه قانون اساسی کشور حزب فضیلت را منحل اعلام داشته ودو تن از اعضای این حزب را از عضویت در پارلمان کشور خارج ساخت .

ص٤

سرمقاله

دلوي او بښونکي خدای (ج) په نامه

یاغي ډله ـ دمخدراتو نړیوالی مافیاپه لوموکی:

دهیواد له ختیځو ولایاتو رارسیدلي مستند خبرونه وایې چې مخالفینو په دې وروستیو کې داسلام هیواداو بشریت پرخلاف یو بل کمپاین شروع کړی او هغه داچې په زیاتر وهغولري پرتوکلیو کې چې پخوا هلته کوکنار کرل کیدل ، یو ځل بیا ددې موذي بوټي کرنې ته هڅونې او لمسونې کوي ، عیني شاهدان وایي دمخالفینو یو باغي مشر چې مخکې هم دکوکنار و په سوداگرۍ لگیا و دهغې دی مقصد لپاره هلې ځلې کوي او په کونړ او شاوخوا سیمو کې یو نیم غلچکي برید ونه ټول دمخدراتو نړیوالی مافیا سره تړلي دي . که څه هم دا یو څرگند حقیقت دی چې په هیواد کې دکوکنارو بشپړبندیز د افغانستان اسلامي امارت یوه داسې لویه ویاړلي او تاریخي کارنامه

٢ مخ

په اسلام کې داستخباراتو ارزښت

٣ مخ

په بهترکه درخدمت انسان قرارداشته باشیم

ص ٣

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کې (۳) کلداری
تیلـفـون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات :٦۲۸٥۹
پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤۰۳۸٥ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

داسلامی نړۍ طبابت ته لنډه کتنه ٦

پوهاند عبدالحی مؤمنی

طبابت دعباسیانو په دوره کی :

داسلام او دجهان په تاریخ کی دعباسیانو دوره ډیره روښانه او یوه بارزه پاڼه په نړۍ کې وه. دعباسیانو دولت دعلم او فرهنګ لیوال و او دهرملت او مذهب پوهانوته یې پرته له سیاسی مخالفتونو احترام کاوه او دعلمی، دینی او فلسفی مناقشو ته ځای ښلل کیده.

افغانان او عربان هغه وخت سره ډیرنږدې شول کله چې په ٦۷۰ کال کې پنځوس زره عرب دخپلو کورنیو سره دربیع بن زیاد ترقیادت لاندی افغانستان ته راغلل او ترپلخه پوری ولاړل.

پدې توګه د ٦٤۲-۷٤٦ کلونو په درشل کې افغانان او عربان دیو بل دتمدن سره آشناشول چې داسلامی تمدن په تشکیل کی اغیزمن واقع شول.

«څرنګه چې افغانستان داسلام دین اود عربوژبه قبوله کړه نو خپل ریاضیات نجوم، انشا او ترسل اوهمدارنګه دهند فلسفه او طب ئې یوځای عربو ته اهداکړل او په مجموع کې یې داسلامی تمدن په برخه کې په موثره توګه شرکت وکړ».

دساسانیانو په وخت کې اګرچې علومو رشد نه وکړی، مګر دطب په برخه کې یو څه ناڅه معلومات موجود و. په دغه دوره کې دیونان پوهان افغانستان او ایران ته راغلل چې دشرقی روم سره ئې مذهبی اختلاف درلود او ساسانی شاهانو هغوته دقدرپه سترګو کتل او دهغوی نه ئې علمی ګټې واخیستلی. چې په نتیجه کې دجندی شاه پور پوهنتون او دهغه سره دیوه روغتون بنسټ کیښودل شو. ددغی موسسی تحقیقاتی اثر ددوا پیژند لوکتاب وچې په ۸٦۹م کې دسالودبن سهل له خوا لیکل شوی دی او دعباسیانو په ټول قلمرو کې یې رواج پیدا کړ او احتمال لری چې لومړنی کتاب په نړۍ کې دفارسی په برخه کې وی دساسانیانو په وخت کې دوه ډوله یعنی ثابت او سیار روغتونونه موجود و په سیار یاګرځنده روغتون کې دتداوی ټول وسایل موجود و چې دحیواناتولکه آس، کچرو او اوښانو په ذریعه یوځای او بل ځای ته نقل کیده او کوم ځای کې چې به ناروغی موجوده وه یوه موده به ئې هلته توقف کاوه.

دطاهریانو په وخت کی : دطاهریانو په وخت کې طبابت او دخلکو ارامی ته خاصه پاملرنه شویده او انی چې عبدالله دطاهر ځوی چې دبغداد حاکم و له خپل پلار ته یو او ږدمکتوب لاس ته راوړ چې په یوه برخه کې یې داسی لیکل شوی و: «... لښکر قوی وساته، امنیت وساته، خلکو سره په عدالت او آرامی رفتاروکړه او دهغوی ضروریات رفع کړه، خپل پاکوالی خلکو ته برښیدکړه او بیمارانو ته روغتون جوړکړه». دطاهر دا مکتوب طبری په «الامم والملوک» کې قید کړیدی.

دسامانیانو په دوره کی :

په دغه دوره کې ډیرکتابونه ترجمه او لیکل شوی چې: دطب په برخه کې الأبنیه فی حقایق الادویه دیوسف هروی له خوا تألیف شوی چې ډیری برخی ئې ملی آرشیف کې موجودی دی -په دغه دوره کې مشهوروشاعرانو او پوهانو ژوند کاوه چې بلخی ابن سینا هم دنهم او لسم قرن محصول دی.

دسرمقالی پاتی برخه

ده چې باید ګردانسانیت یې ممنون واوسی او دنړیوال اهمیت له کبله هیڅوک هم ددغې پریکړې په مخالفت کې یوه خبره هم ونکړی، مګر له بده مرغه دادی وینو چې یاغیان دټولو اسلامی، بشری او نړیوالو حقوقی موازینو پرخلاف شپه ورځ لګیادی او دمخدارتو په شان خطر ناکې بلا دکرنې او ترویج لپاره منډې ترړې وهی داچې دافغانستان ملت د خپلې عقیدې په حساب داسلامي امارت دغه فرمان په سرسترګو منلي ؤ او په دی هکله یې دغوځ او فوری عمل په وجه ګرده نړۍ په تعجب کې اچولې، په رښتینې ډول دافغان ولس دموجود اوراتلونکي نسل په مقابل کې یوه ستره لورینه او قربانی ده. خو یاغیان چې له هری ناروا او ناوړه لاری دخپلو جیبو نو ډکولو په هڅه کې دی، غواړی دمخدراتوله نړیوالو چلونکو نه هم یو څه ترلاسه او په دی توګه دټول انسانیت تباهی او بربادی ته لمن وهی یاغیان اوس دافغان مومن ملت د ټولنیز ی تباهی، انحطاط او بداخلاقی څه پروانه لری اوچمتو دی دغه مجاهد او میړنی ولس دنشیی توکوپه اعتیاد له عمری او ابدی نیکمرغی محروم او دتل لپاره یې په یوه خطر ناکه بدبختی مبتلا کړی - حقیقت دادی چې دهیواد اوخلکو دغه شرمیدلی دښمنان دناروا قتلونو او له یوه سوچه اسلامی نظام نه دبغاوت او وسلوا لو جګړو له امله دومره بدبختی سره مخامخ شوی چې دادی اوس یې دګرد بشریت بدمرغی او ـــــ تباهی ته ملا تړلې او دکوکنار و په شان ضررناک کاروبارته یې ته دوام ورکړي دی له بلې خوا نړیواله ټولنه او هغه یو شمیر هیوادونه چې دمخدراتو سره دمبارزې په لار کې هر کال ملیونونه ډالره لګښت کوی او داسلامی امارت له خوا یې په هیواد کې دکوکنار و بشپړبندیزهم په سترګوولید، دخپلو ځانګړو سیاسی اهدافو لپاره په دغسی یوه مسأله کې هم سودابازی او دګرد بشریت دبرخلیک په سر لوبې کوی - چې دمخدراتو په کار وبار کې دمخالفینو له ګرګندلاس لرلو سره سره بیاهم دهغوی ملاتړ ددی مدعا یو روښانه ثبوت دی - دافغانستان اسلامی امارت په داسی حال کې چې دکوکنارو پرخلاف مبارزه به دتل لپاره جاری او ګرندی ساتی، په دی یقین لری چې د یاغیانو دغه هلې ځلې به هم نامراده او نیمګړی پاتی او هغوی به لاهم سرټیټی او رسواشی. داهم باید ووایو چې نړیوالې ټولنه په دی هکله خورا درونده مسؤلیت لری او دمخالفینو له دی ډول هڅونه سترګې پټول به د ټول بشریت په وړاندی یو تاریخی اولوی خیانت وی.

په افغانستان کی دکورنیو او بهرنیو پانګو الو لپاره ګټور زمینه ۲

پوهنیار دیپلومه انجینر شریفه

لاسی صنایع او دکابل په ښارکی دغالیو او بډلو کارونه :

دافغانستان لاسی او سیمه ایز صنایع دهیواد داقتصادی فعالیتونو ډیره غوره برخه او همدااوس هم دخصوصی پانګی لپاره دزیاتی پاملرنی وړساحه ګرځیدلی ده. داصنعت له یوی خوا دپانګی دمحدود حجم، ساده تکنالوژی، دمحدود مارکیټ دشرایطو سره دځان برابر ولو دقابلیت او په کورنیو اومو موادو باندی دتکیه کیدلو او له بلی خوا دبشری قواوو دپراخه استخدام او دکار دزمینو دزیاتوالی له پلوه دهیواد په اقتصاد کې ډیرګټور او دپاملرنی وړمقام لری دجګړی نه مخکی دوری په وخت کې دپخوانیو څیړنو له مخی دلاسی او سیمه ایزو صنایعو برخه دهیواد دصنعتی تولیداتو په مجموعی ارزښت کې په سلوکی ۸۰ ته رسید له رود بهرنیو اسعارو دحصول په برخه کې دهیواد دصادراتو دمجموعی رقم نه په سلوکی ۱۲،٦ په دی صنعت پوری اړه درلوده. په اوسنی وخت کې چې دجګړو او نړیوالو تعزیراتو په وجه فابریکاتی تولیدی صنایع او په خاصه توګه دامارتی سکتور فابریکاتی صنعت په زیاته اندازه دبربوخت لپاره غیر فعال دی نوځکه دکارزیاتی بشری زیرمی او په ځانګړی ډول ښځینه کارکوونکو دغالیو جوړولو کارته مخه کړی ده. چې [illegible] دهیواد په داخل اوبهر عمدتاً دپاکستان په کمپونو کې په تخمینی توګه د ٥۰۰ ملیون خواو شا نفوس په دی کار بوخت دی. پدی برخه کې نوی او دپام وړ انکشاف دادی چې اوس پدی صنعت کې داوبدونکو نسبتاً لوی کتلوی ټولنی جوړی شویدی. دابکل له مخی همدااوس په پاکستان کې عمدتاً دافغانی مهاجرینو په کمپونو کې نږدی ۸۰۰ کارخانی او یاداوبدونکو دراټولیدو مرکزونه او تولیدی ساحی فعالیت لری.

دکتلوی راټولیدنی داډول سازماندهی لمړی په پاکستان کې دکمپونو دافغانی مهاجرو له خوا تجربه شوی او انکشاف یې کړیدی خو په وروستیو کلونوکی دکاری تجمع داډول تجربه کابل او دهیواد دنورو سیمو ته هم راوړل شویده.

چې همدااوس دکابل په ښار کې دخصوصی پانګه والو دزیاتی پاملرنه وړګرځیدلی ده دکابل په ښار کې دغالیو او بډلو اوبهرته دلیږدونی کاروبار دګټې دشاخص په اړه ارقام پدی ډول دی دیو کیلو ګرام پشمی تارلپاره دوړیو وریشلو ا جوړی او رنګولو ټول لګښتونه د۲٥۰ زره افغانیو خواوشا او په یوه مترغالی کې دتار دلګښت اندازه د ۱۰ نه تر ۱۲ لکو افغانیو ته رسیږی.

همداراز دکابل په ښارکی دقالیو منځنی سطحی اوبدونکی ته دهرمتر غالی اوبدلو په بدل کې د٥ نه ترلس لکه افغانی اجوره ورکول کیږی چې پدی ترتیب دهر متر قالینی تمام شوی قیمت په کابل کې ۲۰ لکه افغانی (۳۰۰دالره خواوشاه) پوری رسیږی حال داچی داروپا او امریکا مارکیټونو ته په لیږدولو دهر متر غالی نه د۱۰۰ نه تر ۱٥۰ دالر وپوری قیمت ترلاسه کیږی. پدی ترتیب دکار په دی ساحه کې دپانګی ددوران نه لویه ګټه ترلاسه کیږی او داپانګه ایزو تشبثاتو دیوځنډولو لپاره دکارو باردډیری ښی فضا ښکار ندوی ده نو ځکه دکار پدی ساحه کې نه یوازی دبی روزګاری له مینځه وړلو بلکه دمصروف پرسونل لپاره دمعاش او امتیازونو دښه کیدو لپاره هم کافی زیرمه موجود ده.

په اسلام کی داستخباراتو ارزښت ۱

داستخباراتو دلوی ریاست له خوا

دایو منل شوی حقیقت دی چې هرهیواد او هره اداره دخپلو متود مظبوتیاپه تکل کې وی هر دولت اورژیم غواړی چې ترنورو ځواکمن او لاسبری وی، په نورو لاسبری دانسان فطری حس او دغښتلتیا او زبرځواکی احساس دهرانسان په فطرت کې نغښتی دی او کله چې خبره له انسانه څخه انسانی ټولنی ته وغزیږی نو بیا ټولنه هم همدا فکر لری او دهمدی انداو تیوری په تال کې زنګیږی دهیواد او ولس مشران خو دهمدی ایدیاپالل خپل ملی مسئولیت بولی، له هغوی سره هم تل همداغم او سوج وی چې هیوادوال یې غښتلی، ځواکمن او دنورو د مقابلی توان ولری. ځکه چې له زوراو ځواک پرته دانسان ټول ارزښتونه له ګواښ سره مل وی، څوک چې له ځانه څخه ددفاع توان ونلری نونه یې هیواد په امن کې وی او نه یې دین او مذهب او نه یې کلتور خوندی وی نه اقتصاد او سیاست، نه یې ملی ارزښتونه دآرام ساه اخستلی شی او نه هم ملی تاریخ او دزوراوځواک ددیربښت او دمتو مظبوتولو بیلابیلی لاری چاری دی چې یوه لاره یې استخباراتی چینل هم دی د استخباراتی چینل یا پټو لاروڅخه معلومات ترلاسه کول دیوه هیواد دملاد تیر حیثیت لری، ډیر وخت ځینی هیوادونه او ولسونه له نورو هیوادونو او ولسونو سره ښکاره او دداګیزی دښمنی او مقابلی پرځای پټی او ترپردی لاندی دښمنی ته لمړی توب ورکوی چې دداډول دښمنی غبرګون هم پټه او ترپردی لاندی مقابله وی، په اوسنی وخت کې خوپه سلوکی اتیا تریګنی اودښمنی دهمدی استخباراتی چینل له لاری پرمخ ځی.

دامریکا دمتحده ایالاتو او پخوانی شوروی اتحاد څولسیزی سره جګړه د همدی لړی کړی وه. اوس هر هیواد په دی کوښښ او هڅه کې دی چې داسی لاری چاری وسنجوی ترڅونور هیوادونه او په ځانګړی ډول دښمن په دی ونه توانیږی چې ددی هیوادونو له حیاتی ارزښتونو ملی او سیاسی موخو نظامی تاسیساتو وسایلو اقتصادی امکاناتو او ...... څخه خبرشی ځینی هیوادونه دنورو هیوادونو دداډول معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره ګرندی فعالیتونه او ډیر لګښت کوی او دانور هیوادونه بیا هلی ځلی کوی او ډیری پیسی لګوی ترڅو په خپل هیواد کې دداډول عملیاتو مخه ونیسی او اسراراوورازونه یې چاته رسوانه شی. دحالاتو بدلون دنویو نویو پیښو منځته راتلل دساینس او تکنالوژی پر مختګ، دارزښتونو، او ماهیتونواو ښتون ددولتونو په خپلمنځی اړیکو اغیزه کوی نوی نوی دوستان او دښمنان پیدا کوی نو دخپل هیواد او ولس په اړه دبل دنیت او ارادی څخه ځان خبرول او په دی اړه مناسب تصمیم او غبرګون ضرور او اړین کاردی اوداکارپه اوسنی وخت کې له استخباراتی چینل څخه پرته ناشونی دی. که یو هیواد دبل هیواد له امکاناتو، سیاسی اونظامی پیاوړتیا، ددوی په اړه له نیت او ارادی څخه خبرنشی نو ددی هیواد په اړه به ددوستی او یا دښمنی تصمیم څنګه ونیسی، او خپله سیاسی او نظامی ستراتیژی او تکتیک به څه ډول جوړکړی. که له بهرنی هیواد او له بهرنیو اندیښنو څخه تیرشو لو هیڅ داډول هیواد به نه وی چې ټول اتباع یې په ټولنیز ډول له یوی مخی داطمینان او باد وړوی او دهیڅ ډول خطر هیله تری ونه شی. خپله دهیواد ځینی اتباع هم هیواد، هیوادوالو او ملی نوامیسو ته وفا دار نه او رښتینی نه وی ترپردی لاندی سیاسی جرمونه هم کوی او جنایی او حقوقی هم نو په دی خاطر چې دمجرمینو دزړورتیا او دجرمونو دګراف دلوړتیا مخه نیول شوی وی نو پټ تعقیب او پلټنی ته اړتیا لیدل کیږی ځکه چې له ښکاره دام او په یونیفورم سیما پولیس څخه خوهر څوک ځان ساتی.

اوس جوته شوی ده چې هر هیواد پیاوړی اطلاعاتی دستګاه و لری نو ډیر بری یې په برخه شوید ی چې دنومونو راوړل یې دلته مقاله ډیره اوږدوی پخپله دحضرت رسول اکرام «ص» دبری ستر راز په دی کې و چې په پیل کې یې بلنه پټه وه، کارونه یې پټ و، داسرارو او رازونو په پټ ساتلو کې یې ځانګړی مهارت درلود.

روغتیا او ټولنه

دسید یوسف شریفي امرخیل په زیار

مواظبت صحت در آئینه خلافت

نوشته : راحل

ابویوسف «رح» گوید : اعمش «رح» از ابراهیم «رح» روایت کـرده اند کـه : وقـتی کـه به حضـرت عمر رضی الله عنه خبـر می رسـید کـه عـامل او (والي یا مســـوول ویا زمامدار ایالتی خلافت)مریضی را عیادت نمی نماید وشخص ضعیف به دفتر او رفته نمی تواند ، اورا عزل می کرد . (الخراج صفحه۱۷۷)

بلی ! آن وقت نامی داشـــتم ونشـانی و این نام ونشـان وشـوکت وعظمت نه زاده، سیاستهای جابرانه و اسـتخباراتی بود که احدی جز مدح نظام چاره ای نداشته باشد وملتها همه به حیث گروگان در زیر ساطور حکام قرار داشـته باشند وهمان گویند که طبع لطیف ! جنابان است ، بلکه واقعیتها حکایتهای غیر این دارد .

آنوقت هرگز مسؤولین زبان مدح وستایش خویش را نمی کشیدند ، بلکه می بینیم که توده های مختلف وحتی غیر مسلمان که درساحه قلمرو حکومت مسلمانان قرار داشتند ، از نظام وشیوه برخورد بزرگان ستایش می کنند و چنانچه گفته اند ، «گل آنست که ببوید نه آنکه بگوید » ، مردم عملاً نظام را مطالعه کرده می پذیرفتند و حضور شان در نظام یك حضور آگاهانه بود و اختیاری و زعامت هم مسئولیت بود ، نه امتیاز ، روی این ملحوظ بود کـه تاریخ شاهدی میدهد که وقتی شخصی از جانب خلیفه اسلام به کدام وظیفه رسمی نامزد می شد . شخص نامزد از پذیرش آن مســـئولیت معـذرت میخواست ، چون پذیرش مسئولیت کار ساده ای نیست و مسئولیت هم نه تنها دنیوی که در آخرت نیز از ذره ذره، آن پرسیده میشود .

در روایت فوق دیده می شود که خلیفه دوم اسلام حضرت عمر فاروق «رض» عیادت مریضان را وظیفه زمامدار مسلمان میداند ، که اگر هر زمامدار از مریضان مسلمین وارسی کرده نتواند ، عزل میشود ، طبیعی است که وقتی زمامدار یا والي از بخش صحت جامعه، خود وارسی کرد ،راه های معالجه، آن نیز در ضمن آن مطرح است ، یعنی اینکه والي یازمامدارمسلمان باید به صحت عامه جامعه خویش جداً توجه داشته باشد وراه ها و طرح ها و پلانهای وقایوی ومعالجوی را در برنامه،کاری خویش داشته باشد ، چه یك جامعه که مورد هجوم انواع امراض باشد ، به هیچوجه نمی تواند پروسه های کاری خویش را بوجه احسن انجام دهد و این مسئولیت نه تنها مســئولیت اداری است که با بیرون رفتن از اداره دفتر مطرح نباشد ، که یك مسئولیت دینی است که به ایمان و عقیده ارتباط پیدا می کند ، چون رسول اکرم «ص» می فرماید : «نظافت جزأ ایمان است » و این ایمان باید از طریق خدمات صحی تکمیل گردد و درغیر آن از اکمال ایمان محرومیت مطرح است .

موضوع دیگر که در روایت فوق اشاره گردیده است ، روابط زعیم با والي را به مردم مطرح میکند یعنی انسان ضعیفی هم اگر به دفتر زعیم ، والي رفته نتواند واز سازوبرگ وباد بکارد و در واز ه بان زعیم درهراس است که نخواهد توانست ، به زعیم برسد حاکم یا والي آن سرزمین قابل وصالح ولایت نیست وهرچه عاجل باید خلع مسئولیت شود .

چون داشتن نا گفتهای منفی برای زعیم اشاره کردیم می رساند که حاکم وظیفه دولتی را امتیاز خود میداند نه مسئولیت پس خلع آن بهتر است .

هر وقـتی کـه نظام را دیگران سـتود وعمـوم مـردم آنوقت تمام مشکلات حل میشود . آنوقت اگر کس ملاحظه ای هم داشته باشد ، باتمام جرئت خویش بدون هیچگونه تهدیدی ویابیمی از تعقیب وتعذیب جواسیس و پولیس حکومتی ، دربرابر مسئول درجه اول جامعه می ایستد و استدلال می کند وحق خود را می خواهد . و زعیم نیز برای انسان صاحب ملاحظه و انتقاد صالح دعامی کند چون بزرگان را متوجه مسئولیت می سازد و بار دوش روز محشر و روز حساب او را کم می سازد پس به پیشانی باز می پذیرد و می شنود ومی گوید «خیری درشمانیست اگر کمبودی های حکومتی را برای مامشخص نمی سازید وخیری هم در مانیست اگر به ملاحظه ، نقطه نظر ها و پیشنهادات و انتقادات شما گوش ندهیم » چنین یك جامعه واقعاً جامعه، توحیدی است و توحید مفهوم و مصداق حقیقی وکلی خویش را درمی یابد و باچنین یك جامعه هیچ مفکوره و هیچ رژیمی در هیچ وقتی و درهیچ مکانی رقابت کرده نمی تواند .و حکومت زمان نبوت وخلافت اسلامی دال روشن برین ادعا است و حقا که این ضرورت اهم زمان ماست و معالج تمام امراض سیاسی ،اداری،وقضائی واقتصادی و.....

وهمین طوریکه مسایل اداری ، اقتصادی و قضائی از منتهای حکومت و دولت است ،مسایل صحت عامه از امور بنیادی امور دولتی ومردمی است که اگر صحت نبود ، دیگر حرکت نیست و رکود وجمود جای حرکت را می گیرد . پس صحت عموم مردمی اساس فعالیت های مردمی است که زعما ، امیران وبزرگان باید توجه خاص خود را درمورد داشـــــــباشند.

دماشومانو دفلج له ناروغی سره په مبارزه کی بی ساری پرمختگونه

ملگری ملتونه وایی دنړۍ په هیوادونکی بی دماشومانودفلج له ناروغی سره په مبارزه کی بی ساری پرمختگونه کړیدی.

دغه پروگرام پوری اړونده شمیرنی په بشپړه توگه حیرانونکی دی . له هغه وخت څخه چی دنړی روغتیایی سازمان دپولیودبیخی له منځه وړلو مبارزه پیل کړیده دفلج پرناروغی دماشومانو داخته کیدو په شمیرکی په سلوکی ۹۹ کمښت راغلی دی دنړیم روغتیایی سازمان وایی تیرکال په ټوله نړۍ کی له دری سوه زرو څخه لږ شمر ماشومان دفلج دناروغی تر برید لاندی راغلی ؤ سازمان زیاتوی مورږ اتکل کړیدی دروان کال تر پایه پوری به له لسو څخه په لږو هیوادو نو کی ددغی ساری ناروغی ویروس موجود وی او ددوو لږو کلو نو پوری به دغه اندازه صفر ته ورسیږی.

پهٔ طبابت کی نوی پرمختگونه

دسترگودناروغیو دعلاج اودرملنی ماهرانو یوه نوی طریقه پیدا کړی ده چی دانسان دسترگو شبکی دعلاج او درملنی له پاره کارول کیږی.

پوهان وای هغهٔ سترگی چی تصویر ونه دسترگو دشبکی سالمی برخی ته منعکس کــوی له هغو ناروغانو سره دمرستی له پاره به د دادمنی استفادی وړوگرځی چی دسترگو دشبکو دزیاتمن کیدو له امله خوریږی دسترگو دعلاج او درملنی طبیبان وایی په سترگیوکی یودول دیرظریف ویدیویی دوربین ښته چی د دول دول تصویر ونو له ترلاسه کولو وروسته دغه تصویرونه دسترگو دشبکی دپر دی پرمخ منعکس کوی پورفیسور «فرنس » چی په دی باره کی پرله پسی علمی څیړنی کړید ی وایی له دغو ستر گیوڅخه په استفاد ی سره دوید یو یی کمری په واسطه له سترگو څخه له بهرنی نړی څخه ترلاسه شوی تصویرونه دسترگو دشبکی سالمو برخو تـه لیږدول کیږی او په نتیجه کی یی تصویرونه په سمه او روښانه توگه له عارضی پرته ترلاسه کـــــــیږی.

په پښتو شعرکی مذهبی څرکونه

د ثبات لیکنه اوڅیړنه

۸

ته مومن ژوند په دین بی زما یاره
ته ژرافریاد کوه په څوکوکاره
استغفار کویه کوه دخان دپاره
ته هم ځان ساته پناه غواړه له ناره
بیداری کړه په سهارکی زما پلاره
ته دخدای له حکمه مه غړوه غاړه
نیک اخلاق کړه ته طلب اوښه خوی واړه
تزرع کړه خپل صورت کړه وچه ناره
ته له ختو بی جوړشوی تن وبچاره
بیداری کړه په سهارکی زما پلاره
ته امید کړه رحمت ته زما جانه
درحمت دروزاه خلاصه ده جانانه
هرسهاررحمت نازل شی له اسمانه
مغفرت په سهار غواړه له رحمانه
بیداری کړه په سهارکی زما پلاره
(۱٦٤ مخ)

دبی بی نیکبختی په مثنوی کی
دفقی او دینی نصحیت

داعصمت پناه او عارفه دالله دشیخ الله داد لور وه په قوم مموزی چی په اشنغرکی بی پلار او نیکه دمن زیو مرشدان وو .

روایت دی چی شیخ الله داد لوی ولی و او لوربی نیکبختـه چی په حققیت کی هم نیکبختـه عارفه ښځه وه علوم دینی بی ولوستل او په ریاضت او عبادت دخدای لاعمر تیرکا «اولیای افغان » هسی کاږی چی بی بی نیکبختـه چی دخدای عارفه او رابعه دزمانی وه یو کتاب بی کښلی دی چی نوم یی دی« ارشادا لفقرا » او په دی کتاب کی یی هسی نصیحتو نه په شعر ویلی دی چی فقرا او عبادالله ته مفید دی داکتاب په کال (۹۹٦ هـــ) تمام شوی دی .

دادی ددی په مثنوی کی دفقی ارشادات چی دایمان ورانگی پکی خپری شوی دی بی څیړنی ورالد ی کیږی.

په زړه بیادشی ای مومنه !
په ظاهر په باطن سپینه
ظاهر زهد په اخلاص کړه
په زړه ټینگ شه له یقینه
شکر ،صبر په هرحال کړه
خو دنمای مه شه خودبینه
شپه او ورځ به په ژرایی
که خبر شی له سجینه
سجین ځای دخودنما یه
دبی نماز و ادبی دینه
له هغه ځا امان راکی
اله العالمینه
(پټه خزانه ۱۸٤۷ مخ)

پورتنی نصیحتنامه چی دیوی پښتنی شاعری دعقیدی او ایمان جذبه پکی ښیخی څرگنده ده په حقیقت کی زمور د «مبین کتاب » قرآن اعظیم الشان دیزدانی او رحمانی لارښوونو پلوشی پکی خپری شوی دی او انسانی نظریات یی نه شوبیلو لای .

بی بی زینب او دهغی په مرثیه
رباعی شکل شعرکی دعا

پاتی لري

پوهنیار طبیبه رحیمه ستانکزی :

چه بهترکه درخدمت انسان قرارداشته باشیم

نه مادیت را عزیز میدار د،نه عدالت راپایما ل میکند ، یتیمان رادرآغوش میکشد وغم ازروی بینوایان میبرد ، عرق میریز د ، زحمت میکشد وحاصل اش رابه مساکین وغریبامی پردازد ، در تداوی وآلام زخمهای خواهران ما آنقدر کوشش میکند توگویی یکی از اعضای خانواده اش مریض شده ودر تدوای آن مصروف است . بلی : حرف برسر هموطن ما ، خواهرما وطبیبه جوان ما رحیمه ستانکزی است.

پوهنیارطبیبه رحیمه ستانکزی در سال ۱۳٦۹ ازپوهنځی طب پوهنتون کابل فارغ ودورهٔ ترینگ خویش رادر سرویس داخله شفاخانه جمهوریت سپری نموده که پس از تحمل مشقات زیاد سند تخصص خویش را دررشته داخله عمومی اخذ نمود ، همزمان به آن طبیبه جوان ما صفت استادی دیپارتمنت داخله شفاخانه جمهوریت را نیز کمایی نموده کـه برعـلاوه تداوی نیازمندانی که درشفاخانه مراجعه مینمود آنعده از طبیباني راکه تازه به کار عملی آغاز میکردآنها را رهنمائی مسلکی مینمود .

طبیبه ستانکزی که نیمی از عمرخویش را صرف کسب علم طبابت نمودفعلاً درشفاخانه رابعه بلخی که یگانه شفاخانه کمپلکس طبقه اناث درشهرکابل است به صفت مسوول ورئیسه کار میکند برعلاوه آن درتداوی ومعالجه وخیم‌ترین مریضانی میپردازد که ازتداوی بیشترین طبیبان ناامیدگردیده اند . برعلاوهٔ آن ،طبیبه ستانکزی پس از فراغت امور رسمی روزانه بیشتر از چهل تن خواهران مارا معالجه وتداوی شخصی نمودهٔ ، مریضانی که مستحق کمك اند شاهد بیشترین خدمت این طبیب جوان ما است .

طبیبه ستانکزی به این عقیده است ،تمام مریضانی که به نزد طبیب مراجعه میکنند قابل ترحم وخدمت اند زیرا اکثر مریضانی که حالت وخیم ومغلق دارند وآنهارا هر لحظه مرگ تهدید میکند که شفا دهندهٔ اصلی آن قدرت توانای تعالی بوده وسبب نجات ایشان ما میشویم پس چه بهتر خواهد بود که درخدمت انسان قرار داشته باشیم .

ماری درانی

اعلانات

نصرالدین فرزند معراج الدین پارك وسایط مکروریان سوم ، سوم الف و چهارم را ماهانه مبلغ شانزده ملیون وهشتصدو هفتاد نه هزاروسه صدوهفتادو پنج افغانی برای مدت دوسال بکرایه میگیرد .

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت اسناد وارتباط ریاست تدویر و مراقبت مکروریانها واقع بلاك ۲۳ مکروریان ۱-۲ بسپارند و خود شان از تاریخ ۲۹-۳ - ۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

به اطلاع شاه ولی و بسم الله ولدان عیسی مسکونین قریه (نه برجه) ولسوالی بگرامی ولایت کابل میرساند تا غرض حل وفصل دوسیه نسبتی شان از تاریخ ۲۹-۳-۱٤۲۲ تا ده روز بریاست دیوان مدنی وحقوق عامه مرافعه ولایت کابل حاضر شوند در غیر آن در غیاب شان فیصله صادر و آنگاه حق شکایت را نخواهند داشت .

* * *

شرکت سیدعلی ولی لمتد هفده جوره تایر به سایزهای ۹۰۰در ٦۰ و ۵۲۰ در ۱۳ معه فیته و تیوب جدید رابه مبلغ دوصدو پنجاه وسه ملیون وششصد هزار افغانی طور قرار داد میرساند .

مناقصه کننده گان درخواستهای خویشرا بریاست اداری شاروالی کابل بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۹-۳-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

حاجی محمود فرزند عبدالعلی تانك تیل شهرنو را ماهانه مبلغ شصت و پنج ملیون افغانی با تصدی مواد نفتی برای مدت یکسال قرارداد

مزایده کننده گان در خواست های خویشرا بریاست عمومی مواد نفتی و گاز مایع واقع سالنگ وات بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۸-۳-۱٤۲۲ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

ریاست تصدی تدویر و مراقبت مکروریانها یك باب خبازی جوار بلاك ۳۳ مکروریان اول ،دوکان نمبر ۳ واقع مکروریان سوم الف، یك حصه دوکان ٤٤ ساحه جدید بین بلاك ٦-۷ مکروریان اول وغرفه بین بلاك ٤ و ٤ الف را به کرایه میدهد، اشخاص وموسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا طور قرارداد داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت اسناد وارتباط ریاست تدویر ومراقبت مکروریانها واقع بلاك ۲۲ مکروریان ۱- و ۲ بسپارند و خود شان از تاریخ ۲۸ - ۳- ۱٤۲۳ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

عبدالواسع فرزند حاجی محمد یوسف روغنیات فروش سرای حاجی سلطان واقع قوای مرکز سه قلم روغنیات تصدی سمنت غوری را طور ذیل نرخ داده است .

تیل پطرول شصت وپنج تن فی تن مبلغ ٤۳٤ دالر امریکائی .

تیل دیزل یکصدوبیست تن فی تن مبلغ ٤۲۷ دالر امریکائی .

گریس تخنیکی کاسترول پنج تن فی تن مبلغ ۳۷٤۳ دالر امریکائی .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بریاست انسجام صنایع وزارت معادن وصنایع بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۸-۳-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

وزارت مخابرات امارت اسلامی افغانستان به طبع وتهیه یك تعداد تکت های پستی وکارت یادگاری ضرورت دارد .

اشخاص و موسسات داخلی و خارجی که امکانات طبع آنرا داشته باشندآفرهای خویشرا طور سربسته عنوانی مدیریت تهیه وتدارکات خارجی وزارت مخابرات ویاپست بکس ۱۰۷۲ ارسال بدارند لست مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد .

* * *

وزارت مخابرات تعداد بیست قلم مواد تعمیراتی از قبیل پلاستیك دولا ، سمنت ، چوب دستك ، تخته فرش ، کلکین ، میخ و غیره را به قیمت مجموعی مبلغ شصت وسه ملیون یکصدو هفده هزار افغانی از بازار نرخ گرفته است .

مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بمدیرت خدمات وزارت مخابرات بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۸-۳-۱٤۲۲ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

اداره احصائیه مرکزی برای زمستان به مواد محروقاتی ذیل ضرورت دارد .

چوب بلوط هشتصدوشصت ونه سیر .

چوب ارچه هشتادوسه سیر .

اشخاص و موسساتیکه خواهش قرارداد آنرا با قبول مالیه و محکوك داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات اداره احصائیه مرکزی متصل هوتل آریانا بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۸-۳-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

اداره احصائیه مرکزی به اقلام ذیل ضرورت دارد .

تیل دیزل شش هزار لیتر
مبلائیل سوپر یکصد لیتر
سبائیل پنجاه لیتر
ویکم برك پنجاه قطعی

اشخاص و موسساتیکه خواهش رسانیدن آنرا طور قرارداد داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات احصائیه مرکزی متصل هوتل آریانا بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۸-۳-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند .

نامه وارده

به سازمان ملل متحد :

شـنو فـغان و غـم دلخرش انسانرا
چرا به آتش ظلم میکـُشی تـو افغانرا
چرا بجای دلت سنگ خاره مسکون است
چرابه نـاله و آه روز وشب یتیمانرا
چـرا حـقوق بشـر گفته هر کجا تازی
چرا زکـشته کنی پشته ، خود مسلمانرا
چـرا ز دانـش وعلم دایماً سخن گوئی
چرا به آتـش و دود میـکشی دبستانرا
چرا به صـلح وصـفا دشمنی چرا بیداد
چـرا به کـینه و جنگ هرکجا مسلمانرا
چرا بنـام(یو، ان) کـاذبـانه می تازی
چرابه پشتون و تاجـك خطـاب افـغانرا
چرا بخـاطر اهـداف شـوم وشـیطانی
چـرا بهـانه کنی توزیع دوقرص نانرا
چرا بکار زنان میـکنُی همـیشه تلاش
چـرا کـناره زکار میکنُی تو مردان را
مگر حقوق بشر معنی اش همین ها است
که گاه بخـون بکـشی گاه بخاك انسانرا
ز اتحـاد مـلل دایمـاً سخـن گوئی
ولی ملت نشمـاری دمـی ضـعیفانرا
براهن همه گفتار مـن فلسـطین است
به شاهـدی بنـگر سـر نوشت افغانرا
دمـی بحـکم خِرَدْ سر بزانوی تفکر
فرو ببـر کـه ببـینی عـواقب آنرا
ثنای حـضرت حـق میکنم همیشه از آن
کـه داد طـاقـت افشـای راز پنهانرا
(طاقت)

۲۸ ربیع الأول ۱۴۲۲ هـ ق مطابق ۳۰ جوزا ۱۳۸۰

دکونړ مېشته ...

دوران کی د مـومندو او سـالارزو د قـومونو د سـربندنواو ځان تیریدو درناوی وکـړ او زیاته یی کـړه چې مومندو او سالارزو قومونو نه یوازی د افغانسـتان د خلکو د مقدس جهاد په دوران کی بلکی په افـغانسـتان کی د اسلامی امـارت د ټینګښت له پیل څخه تر اوسه پوری هم د خپلو اسلامی او وګړنیو وياړنو په دفاع او ساتنه کی له هیڅ راز سربندنو او ځان تیریدنو څخه ډډه نه ده کړی او مجاهدتونه یی د قدر وړ دی .

قوماندان شیرعلم ...

خوئین قوماندان شیرعلم را که مربوط اتحاد اسلامی سیاف است بخاطر اینکه مشکلاتی را ایجاد نه کند درجای دیگری تبدیل نموده وبه عـوض آن یك تن از افـراد اعتمادی خود را توظیف نموده است به گفته منبع مذکور تعداد زیاد افراد شیرعلم به رسم احتجاج سلاح ومهمات خویش را به زمین گذاشته وگوشه نشینی اختیار نموده اند .

پاکستان سره د تازه ...

محترم محمد سهیل شاهین دپاکسـتان سی بی آر له رئیس سره وکـتل او له افـغانسـتان څخه دپاکسـتان اسلامی جمهوریت ته د تازه میوو دصادرولو په باب یی خبری وکړی او په دی برخه کی یی ځینی ستونزی طرحه کړی . په مقابل کی دپاکستان دسی بی آر رئیس دافغانی سوداګرو دمشکلاتو دلری کـولو په خاطر په کویته کی د سی بی آر چارواکـوته لازمی لارښوونی وکـړی . دیو بل خبر له مخی دپاکستان په اسلامی جمهوریت کی دافغانستان داسلامی امارت دسفارت شاژدافیر محترم محمد سهیل شاهین په اسلام آباد کی دایتالیا له سفیر سره وکتل په دی کتنه کی دافـغانسـتان درواتو موضوعگانو او په کابل کی دایتا لیا دجراحی روغتون په باب خبری اتری وشو ی او داسلامی امارت شاژدافیر څرګنده کړه کله چی دامارتی چارواکو او دغیـر دولتی موسسو ترمنځ ستونزی او مـشکلات پیـدا کـیږی دمـوسسـو چارواکی له امـارتی مـسو لینو سره دخبرو پرځای مطبوعاتو ته مخه کوی او هلی ځلی کیږی چی له دغو غیر مسولو څخه داسلامی امارت پرخلاف دتبلیغاتی مـواد و په توګـه کار واخیستل شی او دغـه چلند نه یوازی مـشکلات نلری کـوی بلکی مـسأله لا پسی پیـچلی کوی . له ټولو موسسو څخه زمـوږ هیله داده چی دخبرواو تفاهم له لاری حل کړی دغه راز په دی کتنه کی موسسوته دمساعدو امنیتی شرایطو او دمناسبو کاری شرایطو او داسلامی امارت دقوانینو په پیروی باندی ټینګار وشو .

تـوجـه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

تدویر سیمینار آموزشي ..

را طور جدی تعقیب نمایند کار سیمینار متذکره یك هفته ادامه می یابد .

دننګرهار پوهنتون ...

خبر راکړ په دی غونډ د کی دننګرهار پوهنتون دحقوقو او سیاسی علومو دپوهنځی یو تن استا دختیځ زون دتنظیـمـه ریاست مـرستـیـال او دننګرهار ولایت کفیل محترم مولوی صد راعظم دحقـوقـو او سیـاسی علومـو دپوهنځی رئیس مـولوی محمد قابل زاهد دننګرهار داسلامی پوهنتون دانجنیری پوهنځی رئیس مولوی حبیب الله مدنی په وارسره خبری وکړی او دخلکو او اسـلامی نظام په وړاندی یی دد غـه پوهنځی دفـارغـوانو دنـدی او مکلفیـتـونه جوت کړل . خبر زیاتوی په روان کال کی له دغـه پوهنځی څخه ۴۳ تنه محصلان فارغ شویدی دغه پوهنځی اته کاله مخکی جوړ او تر اوسه پوری بی یو سلو څلویښت تنه فـارغـان ټولنی ته وړاندی کړیدی .

دهیواد ټول نافذ ...

اطلاعـاتی آژانس خبـر راکړ ددغی کتنی په بهیر کی پداسی حالی کی چی د ملګرو ملتـو دسـازمـان سیاسی سلاکار توماس روتی او ددغه سازمان پوځی مسول جنرال کنیت هم حاضـر ؤ د هیـواد درواتو حالاتو او دافـغانسـتان داسلامی امارت دپالیسی په باره کی خبری اتری وشوی او دعدلیی وزارت محترم معین دافغانستان داسلامی امارت داسـاسی قـانون او پالیـسی او دځینو امارتی ادارو داجراتو په باب معلومات ورکړل .

محترم شنیواری زیاته کړه په هیواد کی ټول نافذقوانین په دقیقه او هر اړخیـزه توګه دهیـواد دجید و عالمانو له نظر څخه تیر شویدی او هغـه مـادی چی له محـمـدی غـرا شریعت سره په تنا قض کی وی لری کړای شوی او دامارتی ادارو چاری په هیواد کی له نافذ و قوانینو سره سم تر سره کیږی .

په پای کی فرانسـی ویندرل او ملګری هیأت یی د عدلیی وزارت له محترم معین سره دکتنی اوخبرو له امله خو ښی څرګنده کړه .

قرار داد بازسازي ...

لیلیه پولی تخنیك کابل ، ویرنګ کـاری شـبکه برق پوهنځی های زراعت وسـاینس پوهنتـون کـابل و فعال سازی دستگاه های طباعتی ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی از سوی موسسه خیریه وفا تمویل گردد محترم قاری دین محمد حنیف وزیر تحصیلات عالی دیروز طی مـلاقـات با محـترم داکـتر عبدالولی وردگ رئیس موسسه خیریه وفا از مـساعدت های علمی وتخنیکی آن موسسه درعرصه های مـختلفه وزارت متـذکره اظهـار قدردانی نمود .

درجریان ملاقات رئیس موسسه وفا از علاقمندی محترم داکتر

احسـان یك تن از مهاجرین افغانی مقیم لندن بخاطر اعمار یك محراب مسجد جامع درصحن پوهنتون کابل واهدا مـبلغ بیش از دو هزار لك افـغانی مسـاعدت ودرین مورد یا دآوری کرده تصریح نمود که مصارف نهائی مسجد را درآینده نزدیك از سو ی وی تدارك ودراختیار وزارت تحصیلات عالی قرار میدهد .

دور سوم واکسیناسیون .

آغازگردید . آژانس اطلاعاتی باختر از مرکز ولایت بامیان خبرداد .

برنامه تطبیق واکـسین فلج اطفـال دیروز در ولایت بامیان به همکاری ادارات یو نیسف وسازمان صحی جهان از طرف ریاست صحت عـامه ولایت بامیان آغاز یافت بر ای سه روز در مرکز وولسو الی های بامیـان به شـمـول ولسـوالی های شهرسـتان ولعل وسرجنگل ادامه داشته ومحترم مولوی محمد اسلام محمدی والی بامیان از باشنده گان ولایت متذکره تقاضا نمود که بخاطر تطبیق بهتـر دور سوم کـمپاین واکـسیناسیون با تیم های توظیف شده همکاری نموده اطفال خویش را با تطـبیق واکـسین مـرض فلج از مرض پولیوثجات دهند .

رادیو صداي شریعت ...

خبـر میدهد دراجتـمـاع که بدین مناسبت ترتیب یافـته بو د روسا ومسؤلین دوایر امارتی اشتراك نموده بود ملامحمد سلیم زاهد رئیس اطلاعـات و کلتور ولایت بادغیس پیـرامـون نقش واهمیت وسـایل ارتبـاط همگانی درتنو یر اذهان عـامه واشاعـه حقایق رویداد ها درکشـور صحبت نمود بعدا والی ولایت بادغیس ضمن دیدار از بخش های ترمیم و بازسازی شده از کار وفعالیت خستگی نا پذیر کارکنان فنی ، تخنیکی رادیو ابراز خرسندی نمود کار ترمیم اتاقهای یاد شده به مـصـرف نزده ملیـون افـغـانی از بودجـه انکشـافی امـارت اسـلامی افغانسـتان تکمیل گردیده است .

تعداد کشته شده ...

دیگر شد یداً زخمی گردیدند که دراین درگیری شش تن از مجاهدین نیز شهید گردید ه اند .طبق یك خبر دیگر در اثر یك انفجار بم بارودی دراکهنور ده تن از نظامیـان هندی کشـتـه شده و دراثر درگیری های پراگنده دراین منطقه تعداد کشـتـه شده گان هندی زیاد راپور داده شده است.

په فلسطین کي ...

دوګـیـت په ښـار ګـوټـی کی چی برغلګریکی سیـالی کوی دوه تنه برغلګر عسکر ووژل شول او دغه راز ګاونډیو کورو نو ته زیات تا وانو نه واوښتل . ویل کیـږی چی برید کـوونکی دفلسطین دمبـارزینو دسازمان حماس یوتن فدایی دی چی اړوند ه سـازمـان یی هم ددغه برید مسوولیت په غاړه اخیستی دی . له دغه برید وروسـتـه برغلګرو عسکرو دټاکلی هدف له په پام کی نیولو پرته ددوګیت ښار په شاوخوا کلیو باندی برید ونه وکړل .

د ۵۰۰ فامیلیو ...

په پیل کی مو ددغی موسسی له مسئول محترم عبدالرؤف « عزیزی » څخـه وپوښتـل چی د مـوسسـی د تأسـیس او فـعـالیـتـونو په اړه معلومات راکړی تو موږ ته وویل :

دابوه عام المنفعه موسسه ده او مرکزی دفتر یی د امریکا په ورجینیا کی دی او له ۱۴۲۱ هـ ق کـال را پدیخوا په کابل کی بوه ځانګه لری او بوه بله ځانګه یی هم په پیښور کی په کار بوخته ده او له بیوزلو مهاجرینو ماشومانو سره مرسته کوی .

دغه موسسه دکانادا د تورنتو په ښار کی د میشتو افغانانو لخوا پرمخ بیول کیږی .

د یادونی وړ ده چی په کـابل کی ددغی مـوسسـی لخوا ۶۰ یتیـمو مـاشومـانو ته د لومړیو زده کړو تر څنګ په مسلکی ډول د غـالیو اوبدل هم ورښودل کیږی او د غالیو دځانګی له فارغینو سره د یوی کارګاه او یوی غالی په اندازه مواد و مرسته کیږی ترڅو دوی وکولای شی په مقدماتی ډول خپل ازاد کار پیل کړی ددغو زده کوونکو زده کړی د سهار له ۷ بجو نه د مازدیګر تر ۴ بجو پوری دوام لری چی د دوی د غرمی ډوډۍ هم موسسی په غـاړه اخیـسـتی ده او د امکان په صـورت کی ددوی له کـورنیـو سـره ځینی مالی مرستی هم کوی .

دغـه راز دغـه مـاشـومـان ډیر غریب او یتیمان دی . هغه ماشومان چی پلار یی د اسـلام او وطن په لاره کی قربانی شوی وی باید زموږ ټـول هیوادوال د هغوی په روزنه کی برخه واخلی .

محـترم عزیزی د خپلو خبرو په ترڅ کی زیاته کړه :

زمـوږ مـوسـسـی په خپـل وار د مـیـدان وردګ ولایت له زلزله ځپلو سره هم خپله مرسته وکړه د پخوانی شوروی اتحاد دسفارت په کنډوکپرو شویو ودانیو کی مـو هم له میشـتو مهاجرینو سره مرستی کړیدی دغه راز په خوشحال خان مینه کي مود دوو ژورو ځاګانو په کیندلو سره ۹۰ زرو هیـوادوالو ته چی له وچکالی نه اغیـزمن شوی ؤ دڅښـاک پاکی اوبه برابری کـړی هـمدارنګه دقـرغی د فـامیلی بلاکونو ۴۰۰ کورونه مو د اوبو او برېښنا نه برخمن کړی دی . د ۲۰۰۱ میلادی کال په بهیر کی مو د پیښور د جلوزو کمپ مهاجرینو سره د کورنی په سر ۱۵ کیلو وریجی دوه نیم کـیلو غـوړی او دنیم کـیلو چای مرسته کړیده .

دغـه راز د هرات د مـسلخ کـمپ کی مو له ۲۸۰۰ کورنیـو سره د دوه نیم کیلو غوړیو ۲۵ کیلو وریجو او یوه اندازه نغدو پیسـو مرسته کړی ده د یادونی وړ ده چي په کابل ښار کی موسسی کال د پنځه سوه فـامیلیو د مدرسی د اوبو سیسـتم چي په تیـرو جګړو کی له منځه تللی ؤ ٪۷۰ بیا رغولی دی او پاتی کاری یی هم دوام لری .

د محتـرم عـزیزی له څرګندنو ورستـه مـی په کار بوخت زده کـونکی هـم ولیـدل له اته کلن مـاشـوم بصیراحمد نه مـی و پوښتل ستا پلار ژوندی دی هغه داسی راته وویل :

پلار می شـهـید شـو او کورکی می څوورې خویندی او مور ده زه د دلته کار کوم او غرمه ډوډی هم دلته خورم بصیراحمد ددی پوښتنی په ځواب

کی چي ستا سو د کور ګوزاره څنګه کیږی داسی وویل : له ماسره کله کله موسسه مرسته کوی خپلوان می هم څه مرسته کوی خو مور می دی ته ډیره خوشحاله ده چي زه د غالیو اوبدلو استاد شم او خپل ځان ته ازاد کار پیل کړم او دخلکو له احتیاجه خلاص شم . محمد رفیق « عزت »

طي سه ماه اخیر ...

این کلینیك همـه روزه ا زساعت هشت صـبح الی یك بعـدا ازظهـر درخـدمت مـریضـان قـرار دارد .

درآغاز محترمه طیـبه مـستوره نوری یو سفزی مسول این کلینیك دربرابر نخـسـتین پرسش خبـرنگار ماچنین پاسخ گفتند :

این کلینیك دارای بخش های فعالی چون نسایی وولادی ، اطفال پانسـمان راجستر تبلیغ واکـسین ویك دواخـانه مجـهز می باشد در ابتدا مریضان بعداز ساعت هشت جمع شده دونفر خواهر از کارمندان کلینیك به حیث مسول موظف اند تا این مریضـان را بعدا ز انیکه نمره مـیـدهد به شـعـبـات مـربوط معـرفی ورهنمـائی مـیکنند برای مـریض بعـداز معـاینه ادویه لازم برایش طور مجانی توزیع گردیده ومرخص میشود .

قابل تذکر است که این کلینیك عندالموقع از طریق ریاست حـمایه طفل ومادر وزارت صحت عامه و موسـسه MSF « دکتوران بی سرحد اکمال میگردد شایان ذکراست که مـسوولین وزارت صـحت عـامـه ومـوسـسه MSF وقـتاًفـو قـتاًاز وضعیت مریضان ، طرز کـار این کلینیك وارسی مینماید محترمه مزاری پیرامون فعالیت نسایی ولادی این کلینیك چنین توضحیات داد : حین مراجعه مریضان به این سـرویس اولاً برای آنان فـورمـه صحی توزیع شده ثانیا درقسـمت معاینه فشار خون تعین سن حمل قدووزن مـادر ودرصورت کم خونی آنان اقـدمـات عـملی صـورت میگیرد محترمه عزیزه حارب یکتن از مـسوولین سـرویس اطفـال این کلینیك گـفـتـه : دراین سـرویس روزانه ۳۵-۴۰ طفـل مـریض مـراجعـه نموده وبعـداز مـعـاینه وتداوی دوباره مـرخص میگردند یك احصـائیه دقیق در رابطه به اطفال نشـان مـیدهد کـه از آغـاز سـا ل تـاکـنـون ۲۰۰۰ طـفـل بـه ایـن کلینیك مـراجـعـه نموده است .مـوجـودیت کلینیك های صـحی زنانه درمـرکـز و مناطق دوردست کشـور نشـان دهنده این امـر می باشـد کـه امروز زنان جـامعـه ما نسبت به هرزمان دیگر درهربخش بویژ ه صحت عـامـه تحت توجه وحـمـایت خـاص امـارت اسـلامی قـرار داشـتـه واینکه مطبـوعـات غـرض آلود غـرب از دراز مـدت بدینسو تبلیغا ت سوء را درقبال محرومیت حقوق زنان درافغانستان براه انداختـه اند کـامـلاً عـاری از حقیقتٌ می باشد . سلطانه ایوبی

امریکمي ،ایران ...

ددو و نظر یو درامنځ ته کیـدو په وجه دامسأله وځنډول شوه خو اوس امریکی بیا ادعا کړی چی داچاودنه ایران کړی ده.

در ترکیه حزب ...

یکصد عضو باقی مانده حزب فضیلت در پارلمان ترکیه اکنون میتوانند با سایر احزاب بپیوندند ویا بحیث نماینده مستقل در پارلمان باقی بمانند.

حزب رفاه ترکیه برهبری نجم الدین اربکان قبلاً بجرم فعالیتهای اسلامی در آنکشور منحل وحزب فضیلت جای آنرا گرفت.

اینك حزب فضیلت نیز از طرف یکی از محاکم آنکشور بدلایل نامعلومی منحل اعلام گردیده است .

دپاکستان جمهور رئیس .

وریاندی خبری وشی . ریوټونه وایی چی په دغه ملاقات کي به جنرال مشرف د پاکستان د سیاسی ګوندونو مشرانو سره د کشمیر په شمول په ټولو هغو موضوعاتو غږیږی چی هغه به د هند د صدر اعظم واجپای سره وړیاندی خبری کوی . د پاکستان د ګوندونو ملی ائتلاف د سه شنبی په ورځ یوه غونډه رابللی ده چی په هغی کی به فیصله کیږی چی جنرال مشرف سره دی په اسلام آباد کی وکتل شی او که نه . په دغه ائتلاف کی شامل اکثرو ګوندونو د تیری چهارشنبی په ورځ د جنرال مشرف د جمهور رئیس کیدو فیصله غندلی . انتظار کیږی چی د دغه ائتلاف به له غونډی وروسته خپل عکس العمل په ډاګه کړی .

په چین کي داوږه ...

لوید بخو سیمو کی دڅښاک اوبه دګیری په ډول ویشل کیږی . ددغه ګیره بندی له مخی په دغو سیمو کی هر د کورنی کولی شی په میاشت کی شپږ زره مکعب متره اوبه مصرف کړی او د زیاتو الی په صورت کی به جریمه شی په دغو سیموکی دیو شمیر کارخانو او حمامونو لګښتی اوبه هم بندی شویدی او اوس وخت کی د چین دشمالی او لویدیځو کلیو الی سیمو څه دپاسه دوه ویشت ملیـونه تنه اوسیدونکی دڅښاک له روغتیایی او بو څخه بی برخی دی .

اعـلان فـاتحـه

غلام سخی ، محمد شفیع و فضل الربی عبدالرحیم زی پسران ، عبدالجلیل و عبدالخلیل برادرزاده ها ،محمد عظیم ، محمداماں ، محمد حسن ،حاجی عبدالملك عبدالرحیم زی ، نورعالم ومحمد زمان خسربره ها به اطلاع دوستان میرسانند که فاتحه پدر محمد یوسف عبدالرحیم زی امروز یکشنبه ۳ سرطان از ساعت یکنیم الی سه ونیم عصر درمسجد جـامع امـام احـمـد واقع آقـاعلی شـمس گـرفـتـه مـیـشـو د

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq